**Halifax**
Regional Centre for Education

Parent-Teacher Conferences

For grades primary to 12, Parent-Teacher meetings occur twice a year. The dates are posted on the school calendar and communication will be sent to parents. To attend, parents must register online to book an appointment. Parents are encouraged to attend the meeting which is 10-15 minutes.

Parent-Teacher meetings are conversations between the parent and the teacher about what is best for the child. It is an opportunity to discuss your child's progress. The teacher will explain how your child is doing by showing you examples of their work. The teacher may discuss your child's learning skills and work habits, and ways to support your child at home.

The following provides strategies to help you make the most of the Parent-Teacher meetings:

- Talk to your child before the meeting about what they like about school but also what they find difficult.
- Think about the questions you want to ask the teacher before the meeting. It is good to keep notes of your questions.
- Find out from the school if you can have an interpreter or staff member that speak your language or if you can get support from the YMCA School Settlement Make sure to arrive 5 minutes before your meeting. If further conversation is required with the teacher, arrange a date and time for follow up.
- After the meeting, talk with your child about the positive things that were discussed, and any specific concerns that were raised. Explain any plans that have been arranged to address these concerns.

**د والدينو او ښوونکو غونډې**

د لومړنيو ټولګيو څخه تر دولسم ټولګي پورې د والدينو او ښوونکو غونډې په کال کې دوه ځلې ترسره کيږي. د دغو غونډو نېټې د ښوونځي په جنتري کې ليکل شوي دي او په اړه به يې له والدينو سره اړيکه ونيول شي. د ګډون لپاره، والدين بايد په انلاين ډول نوم ليکنه وکړي ترڅو ځان ته د ملاقات وختونيسي. موږ والدين هڅوو چې په دغو ۱۰-۱۵ دقيقهيي غونډو کې ګډون وکړي.

د والدينو او ښوونکو غونډې د مور و پلار او ښوونکي ترمنځ د ماشوم د ښهوالي اړوند خبرې اترې دي. دا هغه فرصت دی چې تاسي کولای شئ د خپل د ماشوم د پرمختګ په اړه وغږيږئ. ښوونکی به ستاسې د ماشوم د کار د بېلګو په ښودلو سره تاسې ته تشريح کړي چې هغه څنګه دی. ښوونکی به له تاسې سره ستاسې د ماشوم د زدهکړې مهارت، کاري عادتونو او څنګه کولای شئ چې له هغه/هغې سره په کور کې مرسته وکړئ، په اړه خبرې اترې وکړي.

لاندې ستراتيژياني هغه څه په ګوته کوي، چې کولای شي له تاسې سره د والدينو او ښوونکو په غونډو کې مرسته وکړي:

- له غونډې مخکې له خپل ماشوم سره د هغه څه په اړه وغږيږئ چې دوی يې د ښوونځي په اړه خوښوي او هغه څه چې ورته ستونزمن وي.
- له غونډې مخکې د هغو پوښتنو په اړه فکر وکړئ چې تاسې غواړئ له ښوونکي څخه يې وپوښتئ. ښه به وي چې خپل پوښتنې د يوه کاغذ پر مخ وليکئ.
- له ښوونځي وغواړئ چې تاسې ته ژباړونکی يا يو کارمند چې ستاسې پر ژبه پوهيږي، وګوماري. تاسې کولای شئ په دې اړه د وای ام سي اې (YMCA) د ښوونځي تنظيم له برخې مرسته وغواړئ. هيله ده د غونډې له پيلېدو ۵ دقيقې مخکې ځان ورسوئ. که تاسې غواړئ له ښوونکي سره پر اضافي مسائلو خبرې اترې وکړئ، هيله ده چې يو بل وخت او نېټه وټاکئ.
- له غونډې وروسته له خپل ماشوم سره پر هغو مثبتو ټکو او مشخصو اندېښنو وغږيږئ چې په دغه ناسته

| | |
|---|---|
| It is helpful to stay in touch with your teacher, even when things are going well.<br>Possible questions you can ask at the Parent-Teacher meeting?<br>· How is my child adjusting to school?<br>· How is my child progressing in (name the subject)?<br>· What subjects is my child receiving more support in?<br>· What kind of support is my child receiving?<br>· How can I help my child at home?<br>· How is my child with other students?<br><br>Please share information about your child as well, such as what they enjoy doing, what they are good at, and how they learn best.<br><br>It is important for the teacher to know about your child so they can support them as best they can in the classroom.<br><br>Parents/guardians can take their child to the Parent-Teacher meetings | کې وربانديې بحث شوی وي. دغو اندېښنو ته د رسېدنې لپاره خپل تنظيم شوي پلانونه تشريح کړئ.<br><br>ګټوره ده چې د خپل ماشوم له ښوونکي سره په اړيکه کې واوسئ، ان که هر څه سم هم روان وي.<br><br>هغه احتمالي پوښتنې چې تاسې کولای شئ د والدينو او ښوونکو په غونډو کې يې وپوښتئ؟<br><br>زما ماشوم څنګه له ښوونځي سره خپل ځان تنظيموي؟<br>زما ماشوم (په ... مضمون) کې څنګه پرمختګ کوي؟<br>زما ماشوم په کومو مضمونونو کې لا زياتې مرستې ته اړتيا لري؟<br>زما ماشوم کوم ډول مرسته ترلاسه کوي؟<br>زه په کور کې له خپل ماشوم سره څه مرسته کولای شم؟<br>زما ماشوم له نورو زدهکوونکو سره څنګه دی؟<br><br>هيله ده تاسې هم د خپل ماشوم په اړه مالومات شريک کړئ، لکه په کومو شيانو کې ستاسې ماشوم ښه دی او په کوم ډول کولای شي يو شی ښه زدهکړي.<br><br>د ښوونکي لپاره اړينه ده چې ستاسې د ماشوم په اړه پوه شي، ترڅو وکولای شي په غوره توګه په ټولګي کې ورسره مرسته وکړي.<br><br>والدين/سرپرستان کولای شي چې خپل ماشومان د والدينو او ښوونکو غونډو ته يوسي. |